SHARIAT WEEKLY

# شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپریږی

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارګان

څلورم کال نه شپیتمه ګڼه پرله پسي (۲۵۹) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د جمادي الثاني (۹) د۱۳۷۸هـ ش کال د وږی دمیاشتي(۲۸) د۱۹۹۹میلادي کال د سپتمبر (۱۹)


طبق گزارشات موثق :

# مسعود فامیل های بیجا شده گان اهالی شمالی را گروگان گرفته است

## جوانان مجبور ساخته میشوند تا به حمایت از شوراي نظار سلاح بردارند

شریعت : گزارشات موثقي که از مناطق تحت ظلم مليشه هاي ائتلافي مواصلت ورزيده حاکيست که مسعود سردمدار شوراي نظار فامیل هاي بيجا شده گان اهالي شمال را در پنجشير و گرد و نواح آن به گروگان گرفته و از موجوديت ايشان به نفع خود فعاليت مينمايد. گفته مي شود که جوانان ، نوجوانان و مردان فاميل هاي مذکور مجبور ساخته مي شوند تا به حمايت از مسعود سلاح برداشته و عازم جبهات جنگ گردند در غير آن با فاميل هاي آنها توزيع مواد امدادي طع گرديده و از مساعدت ها مستفيد گرديده نميتوانند، اين در حالي است که مسعود با براه انداختن تبليغات زياد، جهانيان را به کمك بيجا شده گان شمالي دعوت نموده و باز همان مواد امدادي را در بدل آماده گي مردان فاميل ها به رفتن به جبهات جنگ ، بالاي فاميل ها توزيع مينمايد .

منابع خبري موثق و شاهدان عيني علاوه مينمايند که مسعود فاميل هاي مذکور را نزد خود گروگان گرفته و از موجوديت ايشان در ساحات نظامي و اقتصادي به نفع خود کار مي گيرد ، گفته مي شود که بنا بر دستور مسعود هيچ يك از فاميل هاي بيجا شده به پنجشير، نميتوانند تا دو باره به مناطق خود و با

ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

**توجه!**

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

طي سال جاري در قلمرو امارت اسلامي افغانستان :

# در ۳۸۳٦ باب مدرسه عصری

# يك مليون و پنجصد و هشتادو شش هزار و بيست و شش طالب العلم مصروف آموزش اند

## به مصرف ٤ مليارد و ۳۰۰ مليون افغاني به تعداد ۱۳۳ پروژه خدماتي منظور گرديده است

## همچنان ۱٥۰ باب مدرسه ابتدائي به متوسطه و ٥۰ باب مدرسه متوسطه به مدارس عمومي ارتقاء يافته است

به تعداد يك مليون و پنجصد و هشتادو شش هزار و بيست و شش تن طالب العلم طي سال روان در سه هزار و هشتصد و سي و شش مدرسه عصري در قلمرو امارت اسلامي افغانستان مصروف آموزش علوم ميباشند .

يك منبع مربوط وزارت معارف به آژانس اطلاعاتي باختر گفت : بعد از استقرار تحکيم حاکميت امارت اسلامي بخشي اعظم از خاك کشور همچنان اعاده نظم و امنيت و بهتر شدن زمينه باز سازي مدارس صد ها تن طالب العلم جديداً در مدارس و دارالحفاظ هاي کشور جذب و طي سال جاري به تعداد يك مليون و پنجصد و هشتاد و شش تن طالب العلم در سه هزار و هشتصدو سي و شش باب مدرسه عصري در قلمرو امارت اسلامي توسط پنجاه و نه هزار و هفتصد و نودو دو تن استاد تدريس ميشوند که اين رقم نسبت به سالهاي گذشته نه فيصد افزايش نشان ميدهد .

منبع افزود: با تامين امنيت و مساعد شدن زمينه تحصيل به تعداد يکصدو ده هزار و پنجصد و پنجاه و شش تن طالب العلم از مدارس عصري کشور در سال گذشته فارغ و به تعداد ده هزار و هفتصدو سي و يك تن طالب العلم جديداً در مدارس متذکره جذب شده اند.

منبع علاوه کرد : همچنان در جريان سالروان به تعداد بيست و شش هزار و چهار صدو بيست و چهار تن طالب العلم در مدارس ديني کشور توسط دو هزار و دو صد و نزده استاد تدريس ميشوند.

محترم مولوي غلام الله ــ

ص ٤

# اهالي ، موسفيدان و بزرگان ولايت جوزجان اعمال ضد اسلامي و انساني مخالفين را تقبيح نمودند

اهالي ، موسفيدان و بزرگان ولايت جوزجان ديروز با تدوير اجتماع وسيعي يك بار ديگر اعمال ضد اسلامي و انساني مخالفين را تقبيح نموده و بر پشتيباني همه جانبه شان با امارت اسلامي تاکيد نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد :

در اجتماعيکه ديروز در شهر شبرغان مرکز ولايت جوزجان به اشتراك محترم ملا خير الله خيرخواه سرپرست وزارت امور داخله محترم مولوي احمد الله مطيع سرپرست وزارت مخابرات، محترم مولوي ولي جان، والي ولايت جوزجان، محترم مولوي عبدالمنان والي ولايت بادغيس، محترم حافظ کريم داد معاون ولايت جوزجان ، محترم انجنير محمد نسيم مهدي ولسوالان ولسوالي هاي ولايت جوزجان

ص ٤

# در هند سومين دور انتخاباتي پارلماني همراه با وقايع خشونت آميز آغاز گرديد

سومين دور انتخابات پارلماني در هند به همراه وقايع خشونت آميز ديروز آغاز گرديد .

در اين انتخابات از نود مليون اشخاص واجد شرايط رايدهي خواسته شده است براي انتخاب هفتادو شش کرسي از جمله پنجصدو چهل و سه کرسي پارلمان نظر خود را اعلاء دارند.

در ايالت بيهار دو نفر کشته شده و در بخش کشمير تحت اشغال بمي منفجر شد ولي خساراتي بهمراه نداشت. در جريان دو دور اول انتخابات چندين نفر کشته شده بودند براي حراست از جان رأي دهنده گان انتخابات در هند طي پنج مرحله صورت ميگيرد.

شمارش آراء قرار است پس از ختم دور پنجم انتخابات به روز سوم ماه اکتوبر صورت گيرد.

به تأسي از مشي عمراني امارت اسلامي افغانستان :

# کار احياء مجدد تأسيسات پوهنتون کابل به سرعت جريان دارد

## بعد از چندين سال وقفه محصلان پوهنتون کابل از نور برق مستفيد گرديدند

کار احياي مجدد تأسيسات پوهنتون کابل به اساس پلان قبلي از بودجه انکشافي امارت اسلامي که اخيراً آغاز گرديد به سرعت جريان دارد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد: محترم الحاج محمد موسي «هوتك» معين اول وزارت پلان و محترم مولوي پير محمد «روحاني» رئيس پوهنتون کابل ديروز در حاليکه برخي از مسؤولين ارگانهاي امارتي نيز حاضر بودند ضمن باز ديد از جريان کار ساختماني پوهنځي هاي حقوق ، ژورناليزم ، تعليم و تربيه

ص ٤

# د بلخ ولايت د فوتبال منتخب تيم په کابل کی د ميوند د فوتبال له تيم سره لوبه وکړه

د بلخ ولايت د فتبال منتخب ټيم چې په دي ورروستيو وختو کی د لوبو د ترسره کولو لپاره کابل ته راغلی دی پرون يې د ميوند د فتبال له ټيم سره په زړه پوري او د ننداري وړ لوبه وکړه .

د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړي ددغې لوبي په بهير کی چی د بلخ ولايت د منتخب ټيم او د ميوند د ټيم د

٤ مخ

# د پکتيکا ولايت د خير کوټ ولسوالي د ديرش بستريزه روغتون د بيا جوړولو کار پيل شو

د پکتيکا ولايت د خير کوټ ولسوالي د ديرش بستريز روغتون د جوړولو کار چي د روسانو د وحشيانه برغل په دوران کي د کمونستي شرموونکي کودتا وروسته بيخي ويجاړ شوي و بيا پيل شو .

٤ مخ

از درک افتتاح درملتون ها لابراتوار ها و معاينه خانه هاي شخصي :

# طي پنج ماه اول سال جاري مبلغ ۳٥۰ مليون افغاني عايد بدست آمده است

محترم مولوي روح الله رحيمي رئيس قوانين صحي و بررسي وزارت صحت عامه

شريعت : خواننده گان گرانقدرا جهت ازدياد معلومات تان در مورد فعاليت هاي رياست قوانين صحي و بررسي وزارت صحت عامه صحبت کوتاهي با محترم مولوي روح الله رحيمي رئيس قوانين صحي و بررسي آن وزارت انجام

ص ٤

# يك تعداد ماشين آلات سرقت شده تصدي کارخانجات جنگلك کشف و بدست آمد

يك تعداد ماشين آلات توليدي تصدي کارخانجات جنگلك که در زمان اداره ائتلافي به سرقت برده شده بود اخيراً کشف و بدست آمد آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : ماشين آلات متذکره که شامل هفت پايه ماشين خرادي ، دو پايه ماشين برمه و يکپايه ماشين ولدنگ فعال ميباشد اخيراً به اثر تلاش و مساعي مشترك منسوبين تصدي کارخانجات جنگلك و موظفين .

ص ٤

د وزير محمد اکبر خان روغتون مرستيال محترم داکتر محمد اشرف مجيد :

# د وزير محمد اکبر خان روغتون په هيواد کی د اورتوپيدی او تروماتولوژی لوی خېړنيز مرکز دی

## ددغه روغتون ښځينه برخه د ۷٥ بسترونو په لرلو سره د هيوادوالو په خدمت کی ده

شريعت : درنو لوستونکو! زموږ خبريال د افغانستان د اسلامی امارت د عامی روغتيا وزارت اړوند بيلابيلو روغتونونو او ادارو څخه د رپوټونو برابرولو په ترڅ کی د وزير محمد اکبر خان روغتون له مرستيال محترم محمد اشرف مجيد سره د يوی لنډی مرکی او خبرو اترو په ترڅ کی ددغه روغتون د چارو او فعاليتونو او روغتيايي حالت په هکله لنډ رپوټ برابر کړی چی دا دی ستاسی د مطالعی لپاره يی خپروو .

محترم دکتور محمد اشرف مجيد په پيل کی وويل : د وزير محمد اکبر خان روغتون پنځه پوړيزه ودانی په ۱۳٤۳ هـ ش کال د افغانستان د وخت د حکومت په نوښت او د المان د حکومت په

٤ مخ

پيمان ناتو اطمينان داد که :

# ارتش آزادي بخش کوسووا سلاحهاي خود را تا پايان موعد تعين شده تسليم خواهد کرد

پيمان ناتو اطمينان داد که ارتش آزادي بخش کوسووا طبق برنامه سلاحهاي خود را تا پايان موعد تعيين شده يعني فردا تسليم خواهد کرد .

نطاق ناتو اعلام کرد که تا روز جمعه گذشته ده هزار قبضه اسلحه تحويل داده شده است .

ناظرين سازمان ملل-متحد قصد دارند ارتش آزاديبخش کوسووا را به يك سپاه غير مسلح تبديل نمايند.

# خدمات لابراتواري از طريق لابراتوار مرکزي و ساير لابراتوار هاي ما طور مجاني انجام مي يابد

محترم معاون موسسه ملي لابراتوار هاي طبي

شريعت : علاقمندان گرامي! جهت معلومات تان در رابطه به فعاليت هاي مؤسسه ملي لابراتوار هاي طبي گزارش کوتاهي را از مؤسسه مذکور تهيه نموده ايم که اينك خدمت تان تقديم ميگردد.

در ابتدا محترم غلام ايشان «شريفي» معاون رياست موسسه مذکور چنين معلومات ارائه نمودند : مؤسسه ملي لابراتوار هاي طبي در سال ۱۳٤۰ در چوکات آمريت لابراتوار مرکزي تأسيس و در سال ۱۳٥۳ بعد از توافق وزارت صحت عامه و سازمان صحي جهان به سطح رياست ارتقاء نموده و جز-پروژه هاي WHO ساخته شد. که به کمك WHO لابراتوار هاي زياد در سراسر کشور تأسيس گرديد متاسفانه که در دوران اداره ائتلافي رباني سامان و لوازم اين موسسه تاراج گرديد و تعمير آن به ويرانه مبدل گرديد خوشبختانه بعد از استحکام

ص ٤

## سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

# ملګری ملتونه بايد خپل ناپيلتوب حفظ کړی

په افغانستان کې د بشر د حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی کمال حسين د روان کال د جمادي الاخر د مياشتي په اوومه نيټه له امريکا غږ رايو سره د يوی مرکی په ترڅ کی ويلی دي چی « طالبانو په خپل تهاجم کی د بشر له حقوقو څخه ډير تيری کړيدی، طالبانو خلک له خپلو کورونو څخه وشتي، کورونه يې ورته نړولي او ډير ستونزمن ژوند لري ... له دی مذاکراتو بوه اوني وروسته طالبانو پراخه حمله پيل کړه چی له بهر څخه بی ملاتړ کيده ».

د ملګرو ملتونو اداره اساساً بوه بی پری اداره ده او ددی اداری منشور همدا دی چی په نړيوالو قضيو کی بايد خپله بی طرفی حفظ او نړيوالی لانجي په بنه ډول او د سولی په فضا کی حل کړی خو په ډير تأسف سره بايد وويل شی چی علايم او نښانی داسی څرګندوی چی ملګرو ملتونو خپل اصلی او پخوانی هو يت

۲ مخ

# د کنړ ولايت : د وټه پوري ولسوالي ديندارو خلکو د مخالفينو اسلامي ضد عملونه وغندل

د کونړ ولايت د وټه پور ولسوالي ديندارو خلکو پرون د يوی ستري غونډی په جوړولو سره د مخالفينو اسلامي ضد عملونه وغندل .

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړی په هغی غونډه کی چی له همدی امله د وټه پوري ولسوالي په مرکز کی جوړه شوی وه محترم ملک محمد حسن ... او ددغی ولسوالي څو تنو مخورو شخصيتونو

٤ مخ

د خوست ولايت د سلمان فارسی «رض» :

# د مدرسی د فارغانو د فضيلت پګړی وتړل شوی

د خوست ولايت د سلمان فارسی «رض» د مدرسی د اووه تنو فارغانو پګړی پرون د يوی ستري غونډی په ترڅ کی وتړل شوی.

د خوست له ولايت نه د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په هغی غونډه کی چی له همدی امله پرون د خوست ولايت د ژوري په جهادی او کفر ماتونکی مرکز کی د سلمان فارسی «رض» په مدرسه کی جوړه شوی وه ، د خوست ولايت مرستيال محترم قاري عبدالباري عبادی محترم مولوی محمود عالم وزيري د کورنيو چارو وزارت د

٤ مخ

# شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملیار «کاکړ»
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤-۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه


## د سرمقالي پاتي برخه

تقریباً له لاسه ورکړی او د څنو هیوادونو د لاس د آلی او د هغوی د اجرائیه قوی حیثیت یې خپل کړیدی خپل هغه د ناپلویتوب او نا پیپلتوب شعار یې تر پښو لاندې کړیدی، چې په افغانستان کې د بشر د حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي کمال حسین دا څرګندونې هم د همدې لړۍ یوه کړۍ ګڼل کیږي.

دده له اظهاراتو څخه داسې څرګندیږي لکه دی چې د ملګرو ملتونو د اداري استازی نه بلکه د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفینو ویاندوی څرنګه چې کمال حسین د ملګرو ملتونو د اداري استازی دی نو دی باید په ناحقه ځان د چا مدافع وکیل یا په قضیه کې طرف نکړي نوموړي باید هڅه وکړي چې د افغانستان لانجه په سوله ایزه توګه حل شي هغه باید د جګړې په اور پطرول ونه شیندي.

د ملګرو ملتونو اداره باید د خپل پاتې حیثیت د تحفظ لپاره لاس او پښې ووهي او که داسې یو طرفه قضاوتونو او په پټو سترګو څرګندونو ته ادامه ورکړي نو باور دی چې په نیږدې راتلونکې کې به د دوی پاتې نسبي حیثیت هم تر سوال لاندې راشي او د نړیوالو اعتماد به پرې له یوې مخې ختم شي.

نوموړي ویلې دي چې طالبانو خلک له خپلو کورونو څخه ویستي، کورونه یې ورته سوځولي، نړولي او له ستونزمن ژوند سره یې مخ کړیدي او جګړه هم همدوی پیل کړه ده ددې راپور په هکله باید وویل شي چې دا راپور له حقیقت څخه لیرې دی. د افغانستان د اسلامي امارت اردو نه د چا کور سوزولی دی نه یې چاته ستونزې ایجاد کړیدي. د افغانستان اسلامي امارت ددې ولس د خلاصون او نجات لپاره منځ ته راغلی ددې ملت د هوساینې لپاره یې وینه ورکوي او یې له کوم نژادي، سمتي ژبني تبعیض څخه ټول ملت د یو وجود سر او سترګې بولي او همدا دعوه یې په عمل کې هم ثابته کړیده نو هیڅ امکان نه لري چې اسلامي امارت دې داسې اقدام وکړي چې د ظلم، تبعیض بوی دې ترې راشي، څرنګه چې مرمۍ او باروت خپل او پردی نه پیژني نو اسلامي امارت هم د خپلې عاطفې او زړه سواندې پالیسۍ له مخې د شمالي سیمو او سیدونکو ته مشوره ورکړه چې څرنګه چې په دې سیمو کې جګړه روانه ده نو په لنډ مهالې ډول دې د خپل سر او مال د ساتنې لپاره هغو سیمو ته ورشي چې بشپړ امنیت په کې حاکم دی او هلته یې ورته د ژوند ټولې اسانتیاوې په نظر کې نیولي دي، دا نه کوم دښمنانه چلند دی او نه د چا په حق تیرې بلکه دا ددې سیمو له اوسیدونکو سره یو ډول همدردي ده چې حتی ترانسپورتي وسایل یې هم ورته اماده کړل تر څو د جګړو له اور نه خوندي پاتې شي او اعلان یې وکړ هر کله چې له دې سیمو څخه د جګړې تغر ټول او امنیت نافذ شي نو خپلو سیمو ته په ورتللو کې یې هیڅ ممانعت نشته دی.

موږ په دې باور لرو چې د ملګرو ملتونو اداره له هغو واقعیتونو څخه هم بې خبره نده چې د شمال له هغو اوسیدونکو سره د مسعود له خوا تر سره کیږي چې یا خو په خپله هغو سیمو ته تللي دي او یا خو مسعود په زوره بوولي دي. د راغلیو عیني شاهدانو د وینا په اساس د نظار ډلګۍ نه یوازې دا چې د خلکو له کورونو څخه د سنګرونو په ډول استفاده کوي او په اور او لمبو کې یې سوزوي بلکه ډیر خلک مجبوروي چې پنجشیر ته ددې لپاره کډې واخلي تر څو مسعود ترې سیاسي، اقتصادي او نظامي ګټه واخلي، مسعو. غواړي چې نړیوال ته ددې کډوالو په بنودلو سره د اسلامي امارت په ضد په خپله هم تبلیغ وکړي، او د اسلامي امارت ضد مطبوعاتو ته مطبوعاتي تغذیه هم برابره کړي همدا ډول د دوی په نوم مرستې هم تر لاسه کړي عیني شاهدانو ویلي دي چې مسعود هغه مرستې چې د نړیوالي ټولنې له خوا له کډوالو سره شویدي په خپل اختیار کې نیولي دي او یوازې هغو خلکو او کورنیو ته یې ورکوي چې ده ته جنګي افراد ورکوي او که څوک افراد ورنکړي او بابې ونلري نو له دې مرستو څخه مستفید کیدلی نه شي، همدا راز په دې خاطر چې د ځینو کورنیو افراد د مسعود په جنګي لیکو کې تنظیم وي نو **مسعود ډیرې کورنې له ځانه سره یرغمل نیولي دي. نو ایا د ملګرو ملتونو اداره له دې حقایقو څخه خبره نه ده ؟ که فرض کړو چې رښتیا هم خبره نه ده نو ایا د دوی دنده یوازې د اسلامي امارت په ساحه کې د بشر حقوقو څارل او څېړل دي که د مخالفینو په ساحه کې هم ؟ او که خبر وي نو بیا ولې په واقعیتونو سترګې پټوي ، په یو طرفه قضاوت کوي او د مسعود جنایات نه اعلانوي ؟**

زموږ مشوره دا ده چې ملګرې ملتونه باید خپله بې طرفي حفظ کړي پریکړې او قضاوتونه یې منصفانه او عادلانه او د واقعیتونو په بنا وي که نو جبه ګیري طرق واقع کیدل او ... به د دوی دا پاتې حیثیت هم له خاورو سره خاورې کړي.

## داد ؟

### پټې پاڼې

شهرت ننګیال

نن سبا دو شنبې ډیر ارځبت تر لاسه کړې د دوشنبې ورځ نه بسیم بلکې د تاجکستان پلازمینه دوشنبه یادوم. نن سبا دوشنبه داسې ده لکه د جهاد په وختونو کې پاکستان یا پیښور احمد شاه مسعود چې له امریکائیانو سره لیده کاته کوي بس دوشنبه یې د ګدر مازیګري وي، رباني صاحب چې له چا سره ګوري نو د یدن نصیب نې دوشنبه وي، حاجي صاحب عبدالقدیر چې د پنجشیر او جرمني تر منځ کنې جار کړي نو د شېروار ځای یې دوشنبه دې.

ائتلاف ته ذوشنبه داسې حیثیت لري لکه پلازمینه ، آخر ملګري ملتونه او امریکایې مقامات به رباني او مسعود د پنجشیر او بدخشان په کومه سمڅه کې لټوي ؟ دغه ګردې آسانتیاوې د دوشنبې برکت دی پدې وروستیو کې چې پاکستان د ښاغلي رستم شاه مهمند په مشرۍ د سولې کومې هڅې پیل کړې دا هم له دوشنبې نه پیل شوې چې دا دې دریم پړاو یې هم شانه کړ.

بد ګوماني بنه نه ده او بیا د رستم شاه مهمند په نیت سړي ته شک د ایمان زیان ښکاره شي، رستم شاه صاحب د افغان کمشنرۍ له مشرۍ له افغانانو سره د اوږدو اوږده سابقه لري چې د افغان کمشنرۍ په بېلا بېلو دورونو کې یې تیک توم ګټلې او له افغانانو سره یې په وار وار د خواخوږۍ جذبه څرګنده کړې ده.

رستم شاه صاحب د دغو خبرو په دریم پړاو کې وکولای شول چې ښاغلي رباني دوشنبې ته د مخامخ خبرو له پاره حاضر کړي، چې دا هم پر خپل ځای یو ښه پر مختګ دی چې لې تر لږه رباني صاحب یو ځل بیا د زوړ او دې تر اغیز لاندې راغی چې ښایې څه وخت وروسته له یوې مخې پر کرښه سر کیږدي.

**مطبوعاتو چې له دغه مخامخ خبرو کوم رپوټونه خپاره کړي په هغو کې ویل شوي چې پاکستان**

**هیښت ښاغلي رباني ته د پراخ بنسټه** حکومت په جوړیدو کې د خپلې همکارۍ او مرستې ډاډ ورکړ.

پوښتنه دا ده چې د ښاغلي رباني او مجددي هغه پراخ بنسټه حکومت هم د پاکستان د مرستې او همکارۍ په ډاډه جوړ او د پیښور له ګورنر هاوس نه اعلان شوی و هغه پراخ بنسټه حکومت چې د پیښور د ګورنر هاوس د ترون له مخې یې وزارتونه چې له اوونه په زیاتو ګوندونو او ګوندیو ویشل شوي وو دا خو د پاکستان د همغه مرستې او همکارۍ تس و چې د پیښور په ګورنر هاوس کې یې د افغانانو غاړې ته لکه د وریښمینو زینډی ورواچوله.

هغه وسیع البنیاد حکومت خو هم د **پاکستان د همکارۍ او مرستې له مخې جوړ شوی وو دومره پراخ بنسټه چې له اوو ګوندونو پرته جنبش، وحدت، پرچم او ډیرو نورو ډلو او ډلګیو هم برخه پکې لرله .**

**بیا نو د پل پراخ بنسټه حکومت په جوړولو کې د پاکستان د مرستې او همکارۍ ډاډ څه معنا لري او څه هیله ترې کیدلای شي.**

د پراخ بنسټه حکومت د تجربې خوند لا له افغانانو نه دی هیر شوی، دغه اوسني جګړې، او **دربدرۍ خو د همغه پراخ بنسټه حکومت برکت دی.**

که هغه مهال په دغه پراخ بنسټه حکومت کې له دومره پراخ نظرۍ کار نه وای اخیستل شوی او د جنبش او پرچم په اړه څه احتیاط شوی وای ښایي اوس به نه محمود مستري دومره سرې شوی و نه کوفی انان او نور او نه به افغانان **له دومره دربدریو او بدمرغیو سره مخامخ شوي وو .**

زه وایم چې د پراخ بنسټه، او دا نورو نومونو او تعریفو پر ځای افغانانو ته د حکومت ضرورت دی، که پراخ بنسټه که پراخ نظره وي که نه، خو چې حکومت وي، نظام او سیستم را منځ **ته کړي، خلکو ته کار وکړي او د ولس ستونزې لیرې کړي که هر څوک پدې لار کې له افغانانو سره مرسته کوي کور ئې ودان خو پراخ بنسټه او داسې نورو نومونه او عنوانونه د افغانانو درد نشي دوا کولای دا مازې د خولې خبرې او د پاکستانیانو په وینا زباني جمع خرچ دی.**

# د بشر د حقوقو نړیواله ټولنه او د عفوې نړیوال سازمان

بریښنا وړانګه

موږ دوه خوار او وږور خو ټول پیژنې چې څومره ښه خلک یو ؟! د هر چا غم راسره دی، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې انسانانو ته خپل خپل حقونه غواړو، څوک نه پریږدو چې د چا پر حقونو تیرې وکړي موږ په خپل سر دا کار نه دی پیل کړی ښه پیژندل شوي مشران لرو هغوی موږ دواړه روزلي یو، هر څه یې راته راکړي، او چې کله رښتیا ، وو وایو او کوم په زړه پوري راپور راغونډ کړو بیا نو هر څه ډیر راکوي، بخششونه، لوړې چوکۍ او غټ غټ مډالونه موږ دوه یوازې نه یو، زموږ ډیر ملګري دي او هر یو په رښتیا او بشر دوستې کې ښه نومونه لري، هغوی څه عادي کسان نه دي د غټو غټو ملکونو د خوښې ښه اعتباري کسان دي، هر یو یې په خاصو ځانګو کې روزلي شوي ، په هر څه ښه پوهیږي ، ډیر زړه سواندې دي تل رښتیا وایي او د هیچا لحاظ نه ساتي ؟! موږ ټول ښه زیار کاږو تر څو ښه او رښتیا راپور برابر کړو دا ځکه چې بیا په ښه راپور موږ ته ښې پیسې او ښه شاباسې راکول کیږي موږ ته چې کله کومه دنده راسپارل کیږي نو په خپل کار کې ښه پام کوو لمړې ګورو چې زموږ د وظیفې د ځای خلک څوک دي؟ زموږ د واکمنو دوستانو که دښمنان او بیا وروسته خپل مسلکي قابلیت په کار اچوو هر څه په ذره بین ګورو او ښه موثق راپور برابرو ، تر اوسه خو ګورې چې موږ څه ښه راپورونه برابر کړي او خبر به نه یې چې څومره پیسې مو تر لاسه کړي، اوس مو روزګار ښه جوړ دي، هر څه لرو، حتی په ډیرو هیوادو کې مو ځانته خپلوان هم پیدا کړي او هغو ته مو هم دفترونه پرانیستې، ښې تنخاوې ورکوو او نازوو یې، تیر کال مو یو څو راپورونه جوړ کړل ډیر مو کار پرې جوړ شو، یو راپور هم د افغانستان، و موږ ته وویل شول چې داسې راپور په جوړوي چې په ملګرو ملتونو کې هم ښه وچلیږي او زموږ دوستان پر خپله چوکۍ ناست پاتې شي ؟! تاسې خو پوهیږئ چې موږ ډیر دانه خلک یو هر چیرته تلي هم نه شو او نه دومره وخت لرو نو ددې راپور لپاره مو خپلو اړونداو ته دنده ورکړه، هغوی ښه ډیر وګرځیدل ، هر څه یې په خپلو سترګو ولیدل او ښه ډیر رښتیایي راټول کړي او موږ ته یې ښه رښتیا او معلوماتي راپور برابر کړ، غواړم چې راپور لږ درته ولولم :

د کابل په ښار کې اوس وضعیت ډیر خراب دی، اوسنی وضعه د استاد رباني له دورې سره هیڅ نشي مقایسه کیدلای، په هغه وخت کې دلته کراره کراري وه، یو ټیک هم نه اوریدل کیده ؟! یوه ځاځکې وینه هم نه وه تویې شوې ؟! هیڅ وسله وال په ښار او کوڅو کې نه لیدل کیده ؟! هر څوک خپلو وظیفو ته راتلل شوي، د ملي بس او برقي موټرونو ترانسپورت فعاله و ؟! د شپې تر دولس بجو په خلک په بازارو کې ګرځیدل ، ټول ښار به په بریښنا رڼا و ؟! هیڅ ځای هم نه و وران شوی ؟! او هیڅ حکومتي شی هم چانه و لوټ کړي ؟! ټول سوونځې پرانیستې د میز او چوکۍ یې نه وې ورکې، ودانۍ یې هم جوړې وې ؟! د کابل ښار دغه سیمې ښې ښکلې وې او عصري ودانۍ په کې جوړې شوې وې لکه دا ډیمزنګ، دارالامان، چهلستون، سینما پامیر ، جاده میوند، چمن حضوري، شاه شهید، کارته نو، بګرامي، قلعه زمان خان، زاړه مکروریان او شاوخوا نورې سیمې ډیرې د ننداري وړ وې، خلک ټول په خپلو کورونو کې اوسیدل، له کوره به چې څوک راووتل هیچا هم پیسې، بایسکل او یا ګیډۍ نه شوه ترینه اخیستي ښار ته لارې هم ډیرې نږدې وي د مثال په توګه له کارته نو څخه ډیر ژر او په آساني سره سړی د بینې حصار چهار اسیاب، میدان ښار ، پغمان، د دشت چمتله له لارې خیرخانې او ښار ته رسیدی شوي، کرایې هم ډیرې ارزانه وې، حکومتي دفترونه هم ټول په خپلو ځایونو کې و یو هم له خپله ځایه نه و ښوریدلي، ښځې وظیفې ته تللې هیچا هم په کره نه ورته کتل یوه ښځه هم نه وه تښتول شوې او نه وژل شوې وه، په ښار کې یو کس هم نه و مړ شوی او په شفاخانو کې هم یو زخمي نه و داخل شوی، راکټونه چا نه پیژاندل، سوله او امنیت و هر څوک د ښار هرې سیمې ته تللی شوي هیچا څه نه ورته ویل، شیعه ، سني، پښتون، تاجک، تاجک هزاره، هزاره پښتون په دې نامه هیڅ توپیرونه نه و او یو بل سره ځنګ په ځنګ اوسیدل، د خلکو په سرونو کې د میخونو ټکوهل، د مړو نڅا، د ښځو تښتول او وژنه، غلا او لوټماري ټولې بې ځایه پروپاګندې وې، خلک ډیر خوشاله و دوه دری آوازې خپرې شوې خو ټولې دروغ وې هی|| هم څه نه و لیدلي یوه دا چې د مکروریانو له شپږم پوړ څخه هیڅ کومې ښځې د ملیشو له شر څخه د خپل عزت د ... لو په خاطر ځان نه وراغورځولي او جنازه یې ... ګ ته خلکو نه وه راوړې چې استاد رباني ورته ووایي ( برین د وخت کمونیستا چرا چیز نمی گفتین که آلی میگین ) او هغه بله کیسه هم دروغ وه چې د چا ښځه ملیشو تښتولې وه او خاوند یې رباني صاحب ته عریضه کړې وه هغه ورته لیکلي و ( محترم قوماندان صاحب ! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته ! اگر خانمش را طبق اصول برایش تسلیم کنید مهربانی تان خواهد بود )

دا هر څه آوازې وې، د وزیرانو شورا هره هفته په صدارت کې جوړیده ټول وزیران حاضر و او هیڅکله هم په چهار آسیاب او یا دارلامان کې نه ده غونډه شوې، په دولتي ادارو کې د هر ولایت او قوم کسان و هیڅ توپیر نه و هر چا کولای شول چې له حکومتي آسانتیاو څخه کار واخلي، دا خبره غلطه ده چې مسعود ویلي و « باد از ای باید دغه بغه ره نه شنوم » کله چې د رباني قانوني او په نړیوالو اصولو برابر ؟! حکومت له کابل څخه شړل شوی هلته حالات ډیر خراب دي، خلک له امنیت څخه خوښ نه دي ځکه چې ارزانه شپیان په لاس نه ورځي، دغله لاس قطع کیږي ، زنا کار او شراب خور په درو وهل کیږي، قاتل وژل کیږي چې دا کارونه د بشر د حقوقو مخالف دي ؟؟! په داسې حال کې چې د ښوونځیو ودانۍ د استاد رباني له وخته جوړې پاتې دي، میز او چوکۍ په کې اینې دي او تخته پاک او تباشیر هم پر خپل ځای دي د نجونو ښوونځي نه پیل کیږي دا هم د بشر د حقوقو خلاف ده او داسې نور په لسهاو د بشر د حقوقو مخالف کارونه کیږي نو لازمه ده چې د استاد رباني حکومت د قانوني حکومت په توګه بیا هم په رسمیت وپیژندل شي ځکه چې هغه هر چا ته خپل حق پوره ورکړی و ... موږ په پورتنې راپور سره ستر نړیوال حیثیت تر لاسه کړ ځکه **چې سرتر پایه ټول رښتیا و او کوم خارجي هیښتونه چې هلته تللي وو هغو هم په کابل کې د رباني د وخت هیڅ کومه دوراني او د لوټ تالان نښه نه ده لیدلي ؟؟...**

# د ختیځ تیمور مسئله

محمد سهیل

**ختیځ تیمور د اندونیزیا ۲۷ ولایت دی او د تیمور د سین په غاړه نیمه جزیره سیمه ده مرکزی یی دیلی نومیږی، اوسیدونکی یی کاتولیک عیسویان دی او پخوا د پرتگال مستعمره وه . په ۱۹۷۵ کال کی د اندونیزیا حکومت دغه سیمه په اندونیزیا پوری وتړله او سملاسی د اندونیزیا د هغه وخت حکومت په ختیځ تیمور کی په زرگونو ډالره سرمایه گذاری وکړه .**

**دلته تقریباً اته لکه خلک اوسیږی چی پنځوس زره تنه د اندونیزیا له نورو ایالتونو نه راغلی او دلته میشت شوی دی له اقتصادی پلوه، ختیځ تیمور د اندونیزیا لپاره دومره گټور نه دی پدی سیمه کی یوازی د مرمرو تیږه او د عود د لرگی منابع موجود ددی لاکن له سیاسی پلوه د جاکارتا لپاره خورا اهمیت لری.**

**کله چی څه د پاسه شل کاله مخکی ، دغه سیمه د اندونیزیا سره الحاق شوه نو استرالیا هم دغه الحاق په رسمیت وپیژاند لاکن بیا وروسته یی دریغ بدل کړ او ځینو هغو کسانو ته یی پناه ورکړه چی د تیمور د خپلواکی لپاره هلی ځلی کوی، کله چی د مالی فساد له امله په اندونیزیا کی د سوهارتو حکومت سقوط وکړ نو غربی هیوادونو او ملگرو ملتونو د اندونیزیا اوسنی ولس مشر حبیبی وهڅاو چی په ختیځ تیمور کی رفرندم تر سره کړی، نوموړی د بین المللی فشار له امله دغه کار ته غاړه کیښوده، پداسی حال کی چی دغه غوښتنه مخکی د اندونیزیا پوځی حکومت رد کړی وه. د رفرنډم له وروسته ملگرو ملتونو عمومی منشی اعلان وکړ چی مطلق اکثریت د خپلواکی لپاره رای ورکړه ددی**

اعلان نه وروسته په ختیځ تیمور کی خونړی پیښی وشوی چی په زرگونو کسانو پکښی ژوند له لاسه ورکړ.

غربی هیوادونو او امریکی دغه وژنه وغندله او پدی کی یی د اندونیزیا د پوځ لاس وبالله همدا راز واشنگټن د جاکارتا سره ټول نظامی تړونونه لغو اعلان کړل او اخطار یی ورکړ که په ٤٨ ساعتونو کی په ختیځ تیمور کی عامه وژنه بنده نشی، نو نړیوال پوځ به په زور ختیځ تیمور ته ننوزی لاکن وروسته امریکا پخپل التیمتم عمل ونکړ او ویی انگیرله چی د اندونیزیا د حکومت د موافقی نه پرته په ختیځ تیمور کی پوځی برید گران پریوزی ځکه اندونیزیا نه کوسوو ده او نه یوگوسلاویا ، دغه هیواد ۲۱۰ میلونه نفوس لری او د هر ډول بهرنی قوت سره د مقابلې د توان درلودونکی دی.

د یوی اندازی له مخی اوس په ختیځ تیمور کی ، پنځوس زره ملیشیا او شل زره اندونیزیایی عسکر موجود دی لاکن د مسلسل بین المللی فشار له مخی، د اندونیزیا حکومت اوس په ختیځ تیمور کی **د بین المللی پوځ ځای په ځای کیدل منلی دی.**

د اندونیزیا خارجه وزیر علی العطاس نیویارک ته لاړ تر څو په ختیځ تیمور کی د بین المللی پوځ د لیږلو د میکانیزم په هکله د ملگرو ملتونو له عمومی منشی کوفی عنان سره خبری وکړی. ددی خبرو په نتیجه کی او د امنیت د شوری د فیصلی له مخی به د استرالیا په مشری کی بین المللی پوځ ختیځ تیمور ته لیږل کیږی اوس اندونیزیا ۷۰۰۰ عسکر د ختیځ تیمور نه ایستلی او نور پوځیان به هم وباسی.

امریکی وعده کړی چی د بین المللی پوځ لپاره به لوژستیکی مواد تهیه کوی لاکن د اندونیزیا دننه حکومتی او غیر حکومتی کسان فکر کوی چی د ختیځ تیمور مسئله د اندونیزیا د تجزیی لپاره یوه نړیواله دسیسه ده. خلک ویریږی چی ښایی نور ولایتونه هم د خپلواکی غږ وکړی. اوس ، اوس د آسی، ایرین جایا او رایو په ولایتونو کی د تجزیی د تحریکونو هڅی روانی دی دا به هغه دسیسه وی چی په نړی کی ستر اسلامی هیواد اندونیزیا به ټوټی او کمزوری کړی. د اندونیزیا د فوح مشران په ختیځ تیمور کی د استرالیا امریکا ، نیوزیلند او پرتگال د عسکرو په شاملیدو اعتراض کوی او وایی چی د شرقی تیمور په مسئله کی دغه هیوادونه بیطرف نه دی. نوموړی د دوی په ځای ، د اسیایی هیوادونو د پوځ غوښتونکی دی.

چین هم پخپل گاونډ کی د غربی پوځونو د را غونډیدو په هکله تشویش لری باید ووایو چی چین د تایوان سره ورته مشکل لری. او د تایوان د جمهور رئیس لی تن هوی د خپلواکی غوښتنی د ورستیو ځرگندونو نه وروسته د بیجنگ، واشنگټن او تایپی تر مینځ ناندری راپور ته شوی دی.

داسی ځرگندیږی چی غربی هیوادونو په یو طرفه ډول د ختیځ تیمور په هکله عمل کړی ځکه چی نوموړی هیوادونه په نړی کی د مسلمانانو د ازادی غوښتنی د هڅو هغه شان ملاتړ او یا توجه نه کوی لکه څنگه چی یی د ختیځ تیمور په هکله د عمل یووالی او اخلاص وښود کله چی د ختیځ تیمور رفرنډم نه وروسته په واشنگټن کی د امریکی د خارجه وزارت د نطاق جیمز روبین نه پوښتنه وشوه چی ملگری ملتونه باید په کشمیر کی هم رفرنډم وکړی، هغه وویل، « دا یوه خنده آوره مقایسه ده، **کشمیر ختیځ تیمور نه دی... موږ په نړی کی د انتخاباتو په صحت او سقم پاندی نه غږیږو »**

**د جیمز روبین د وینا نه داسی ښکاری چی په نړی کی یو بام او دوه هوا چلیږی او د زورور اوبه په غره خیږی**

# مسکو د داغستان د جگړی په جبهه زار کی

م. شاهین

په داغستان کی، د مسلمانو مبارزینو په خلاف اوسنی حمله د روسی عسکرو دوهمه حمله ده تیره میاشت روسیی پوځ په داغستان کی د مسلمانو مبارزینو په خلاف برید کړی و تر څو د داغستان د بوټناکسک په سیمه کی د مجاهدینو نه د غرو په لمن کی کلی بیرته ونیسی. پدی حمله کی، روسیی خپل ټول هوایی او ځمکنی ځواک نه کار اخیستی و داسی ریوټونه هم ورکړ شوی چی روسی الوتکو د چیچنیا دننه کلی بمبار کړی او د بی گناه کسان یی وژلی چی د چیچن حکومت پدی هکله سخت اعتراض کړی دی.

تر اوسه مسلمانو مبارزینو د روسیی یو هلیکوپټر او یوه جنگی الوتکه راغورځولی ده . مجاهدین د خپلو کمینونو نه د روسیی په عسکرو بریدونه کوی او د هغوی پر مخنگ یی سست کړی دی همدا وجه ده چی روسی عسکر د مجاهدو مسلمانانو په مقابل کی د ناتوانی احساس کوی. په داغستان کی د روسیی د کورنیو چارو د وزارت یوه صاحب منصب ویلی : موږ ته په مسکو کی ویل شوی و چی تاسی به د کوچنیو وسله والو ډلو سره جنگیږی خو موږ اوس وینو چی موږ د یو غښتلی او له هره پلوه ښیر پوځ سره مخامخ یو. » همدا راز د روسیی عسکرو هم ویلی چی ددوی سوچ نه کاو مسلمان مبارزین به دومره غښتلی وی.

تر اوسه پوری په مسکو او داغستان کی د اوسیدو په اپارتمانونو کی پنځه چاودنی شوی دی. پدی کی د دریو سوو نه زیات کسان وژل شوی او همدومره ټپیان شوی دی یوازی په داغستان کی د عسکری کورنیو د اوسیدو په اپارتمان کی ۱۰۵ کسان وژل شوی او ټپیان شوی دی.

مسکو په داغستان او چیچنیا کی مسلمان مبارزین تورن کړی چی پدغو چاودنو کی لاس لری لاکن د مسلمانو مبارزینو مشر شامل بسایف دغه تورونه رد کړی دی. همدا راز د مجاهدینو یو بل مشر « خطاب » هم ویلی چی مسلمانان پدغو چاودنو کی لاس نلری.

زیات کتونکی باور لری چی دغه چاودنی د روسیی په داخل کی د سیاسی ترینگنیو نتیجه ده لا تر اوسه ددی چاودنو عاملین نه دی نیول شوی او دا هم ددی ټکی ښکارندوی دی چی ښایی پدغو چاودنو کی به د روسیی د استخباراتو دستگاه لاس لری تر څو ښیی چی په روسیه کی امنیتی وضع ښه نه ده او اضطراری حالت یی اعلان کړی دغه کار به بوریس یلتسن ته موقع په لاس ورکړی چی انتخابات وځنډوی او پدی ډول به قدرت کی پاته شی، لاکن ددی دسیسی قربانی هغه مسلمان قفقازیان دی چی په مسکو کی اوسیږی. تر اوسه د روسیی پولیسو د چیچن ٦۰۰ کسان چی په مسکو کی اوسیږی، نیولی دی. همدا شان یی د داغستان او سیدونکی د تحقیق لپاره امنیتی مرکزونو ته بیولی په مسکو کی اوسیدونکو قفقازی مسلمانانو ته د پولیسو له خوا ویل شوی چی باید ټول د پولیسو په مرکزونو کی خپل کوایف له سره ولیکی.

د قفقاز د مسلمانانو تاریخ ښیی چی د روسیی د مرکزی حکومت په خلاف د قفقاز د مسلمانانو مبارزه د دوه پیړیو راهیسی دوام لری او پدی دوران کی یی روسیی ته زیات مالی او ځانی تاوانونه رسولی دی. د روسیی د کمونستی حکومت موسس لینین « علیه لعنة » اعتراف کړی و چی د دوهمی نړیوالی جگړی په پیل کی په قفقاز کی د خپلواکی د تحریکونو د مقاومت له امله د روسیی عسکری ځواک کمزوری شوی و .

د قفقاز مسلمانان دوه عمده مشترک خصوصیتونه لری : لومړی هغوی ټول د روسیی سلطه نه منی دوهم د اسلام د مبین دین سره د زړه تړاو لری. همدا وجه ده چی په متحد ډول د روسیی د سلطی په خلاف جنگیږی.

قره ماخی او شعبان ماخی چی اوس د داغستان د مجاهدینو اساسی مرکز دی مخکی د چیچن د مبارزو مسلمانانو لوژستیکی اډه وه، دلته د داغستان او چیچن مسلمانانو به گډه د روسی عسکرو په خلاف جنگیدل شامل بسایف چی اوس د مجاهدینو قوماندان دی پخوا د چیچن صدراعظم و .

د تیرو دوو پیړیو په اوږدو کی د مسکو حاکمانو تل غورځی پرځی کړی چی په قفقاز کی به د مسلمانانو مقاومت د تل لپاره ختم کړی، لاکن دغه کار د عمل په ډگر کی تل نیمه خوا پاته شوی دی.

روسانو په چیچن کی شل زره میلونه ډالرو لگول او دغه هیواد یی په کنډوالو بدل کړ خو نه یی ددی ځای په خلکو کی د خپلواکی روحیه وځپله او نه یی په زور او استبداد سره خپل ځواک ټینگ کړ.

په روسیه کی عام خلک نه غواړی چی یو ځل بیا په قفقاز کی د جنگ په بل جبه زار کی ښکیل شی او نه روسی میندی دغه جرئه معقوله گڼی چی زامن ی د هیواد په یوه لری او مسکنه سیمه کی ووژل شی.

د روسیی یو پخوانی صدراعظم چیرنو میردین ویلی چی چیچن او داغستان دومره مهمی سیمی نه دی، یوازی نړیوال بازار ته د گاز او نفتو د پایپ لاینونو د غزولو لپاره په کار راځی او بس له بلی خوا د روسیی اقتصاد هم به داغستان کی د اوږدی جگړی له بار نه نشی . پلی همدا راز د روسیی پوځیان هم یوازی په اوازه سیمو کی د جنگ لپاره روزل شوی دی په غرنیو سیمو کی غښتلی نه دی. له بلی خوا په افغانستان کی د سور پوځ ماتی او د چیچن د مسلمانانو برۍ د داغستان مسلمانانو ته باور ورکړی چی ورونستی برۍ د دوی په برخه دی.

د خطاب په نامه د مسلمانانو مبارزینو مشر وایی چی که ضرورت شو تر د یر لسو کلونو پوری به د روسیی په خلاف د جنگیږی او د روسیی د مسلمانانو د اسلامی یووالی رئیس نادر خواجه ایف هم وایی چی د روسیی تر نابودی پوری به جنگیږی.

د ناتوانی پدی حالت کی ، مسکو غرب ته سترگی نیولی چی د مسلمانو مبارزینو په خپلو کی ورسره مرسته وکړی، راتلونکی به روسیی چی د غرب غیرگون به څه وی خو په افغانستان کی د سور فوځ زور ازمایښتی وښودله چی په زور کلی نه کیږی او کله خو د غوږ گټیلو په ځای سری سرونایلی.

## سفر نامه

## از کابل تا تاشکند

## دیپلماسی فعال امارت اسلامی افغانستان در اجلاس گروه ٦+۲ منعقده تاشکند

۸

احمد ضیأ "شریفی"

**آقاي اندر فورت گفت: بخاطر حل مشكل ما دو راه است : مقابله يا همكاري، شما كدام را مي خواهيد مقابله يا همكاري ؟**

**محترم متقي گفت: از مقابله كسي خير نديده است .**

**آقاي اندر فورت در جواب گفت : موضوع اسامه خيلي مهم است براي امريكا . او عقيده دارد كه امريكاييان را حالا و در آينده به قتل برساند؛ او در ساحه طالبان فعاليت دارد ما مي فهميم كه اسامه در افغانستان قبلاً بوده و به جهاد و طالبان هم كمك كرده و طالبان هم به همين منظور او را دوست دارند؛ ولي ما هم در وقت جهاد افغانها را كمك كرده ايم .و در قسمت شكست روسها ما مديون افغانها هستيم . ما موضوعات زياد داريم كه با طالبان مطرح نماييم از جمله مواد مخدر، زن و ... ولي موضوع اسامه را ارجحيت ميدهيم؛ ما از طالبان خواهش مي كنيم كه اسامه را به عدالت تسليم نمايند.**

**متقي صاحب گفت : دنياي امروزي دنياي مقابله نيست : بلكه دنياي مفاهمه و مذاكره است و ما مي خواهيم كه معضله خود را از طريق مذاكره حل نمائيم. انگليسها به كشور ما تجاوز كرد و با ما مقابله نمود، و كشور ما را متضرر ساخت و بسياري از مردم متدين افغانستان را به شهادت رسانيد و هم چنان امپراطوري بزرگ آنها كه ميگفتند آفتاب در قلمرو آن غروب نمي كند نيز از بين رفت .**

مطلب اين است كه نه به آنها فايده كرد نه به ما. و بعداً قوت قوي و مغرور دنيا اتحاد شوروي سابق به افغانستان تجاوز نمود و با افغانها مقابله كرد و به صد ها هزار نفر را در افغانستان به شهادت رسانيد و اقتصاد افغانستان را شديداً متضرر ساخت و خيلي نابساماني ها را در افغانستان ايجاد نمود و اتحاد شوروي هم به شكست فاحش مواجه و تجزيه گرديد و امروز روسيه در جهان بد ترين اقتصاد را دارا مي باشد. و اين مقابله نه به شوروي فايده كرد نه به افغانها ، هدف از اين سخنها اين است كه مقابله نتيجه مثبت در قبال ندارد و مقابله راه حل معضله نيست ما مذاكره و همكاري را ترجيح ميدهيم. و در رابطه به اسامه بايد گفت : در نزد افغانها يك مثل معروف است كه « من سيب ميخواهم از هر درخت كه باشد » آيا شما اسامه را مي خواهيد يا حل مشكل را ؟ حالا شما بگوئيد از كدام طريق مي توانيم اين را حل نمايم اسامه؟ يا حل مشكل ؟

دلايل نقلي و عقلي ما اين است كه اگر در اين گيلاس چيزي را بيندازيم او فعاليت نمي تواند و در مورد اسامه همين طور پابندي داريم و اگر شما ادعا داريد كه باز هم اسامه فعاليت مي نمايد براي ما بگوييد و اگر اين موضوع نيست احساسات هر دو ملت امريكا و افغان به طغيان مي آيد و اين موضوع خيلي بزرگ مي شود. حالا چطور كرد ؟ او كه براي ما مانده است .

من فكر ميكنم امريكا به دوستان خوب ضرورت دارد نه به مخالفت. باز هم حرفم را تكرار مي نمايم بالاي اسامه قيود وضع گرديده است نه تنها اسامه بلكه هيچ فرد در داخل افغانستان عليه ديگر كشور فعاليت نمي تواند ما در اين زمينه كوشش كرده ايم اگر شما كداه نظر داريد بگوييد .

آقاي اندر فورت يك نفس طولاني كشيد و گفت: سال گذشته بالاي مناطقي كه اسامه در آنجا افراد را تربيه مي نمود حمله كروز نموديم و ما از منافع خود دفاع مي نماييم .

محترم متقي گفت: ما مانع فعاليت اسامه شده ايم و نمي گذاريم وي را كه به عليه امريكا فعاليت نمايد و ما حكومت اسلامي طبق خواست ملت خود ساخته ايم، اين به نقص امريكا نيست؛ باز هم تكرار مي نمايم؛ اسامه نمي تواند از خاك افغانستان فعاليت نمايد اگر سند داريد ارائه نماييد.

اندر فورت گفت : اسامه بسيار افراد دارد و افراد وي به اين فعاليت مشغول اند و به نقص امريكا كار مي نمايند.

محترم متقي گفت : شما خود اعتراف مي نمائيد كه اسامه افراد بسيار دارد پس چطور به يك اسامه مشكل حل خواهد گرديد؟ بايد كوشش شود كه راه اساسي حل مشكل جستجو گردد .

آقاي اندر فورت : چون فرمان از طرف اسامه صادر مي گردد .

آقاي اندرفورت بار ديگر نفس طولاني كشيد و گفت : پس راه حل چيست ؟

محترم متقي: شما در امريكا كميته بي متشكل از اشخاص خبره را ترتيب بدهيد كه كميته مذكور در اين مورد راه حل را جستجو نموده و در زمينه عميقاً فكر نمايد و ما هم كوشش مي نمائيم و حاضر به مذاكره هستيم.

### ملاقات با آقاي كريموف رئيس جمهور ازبكستان

ساعت ٦:۳۰ ملاقات آغاز شد. زمانيكه هيأت امارت اسلامي افغانستان وارد دفتر رئيس جمهور شد آقاي كريموف از عقب ميز كار خود برخاسته و در صحن اتاق با هيأت امارت اسلامي افغانستان مصافحه نمود.

در ملاقات با رئيس جمهور روي عـ[illegible] و روابط دو جانبه ، همزيستي خوب و همجواري نيك ، انكشاف روابط اقتصادي و سياسي و يك سلسله موضوعات مورد علاقه صحبت طولاني صورت گرفت كه آقاي كريموف از اظهارات محترم متقي رئيس هيأت امارت اسلامي افغانستان اظهار قدرداني نمود و وعده هر نوع همكاري را در زمينه دادند.

آقاي كريموف و رهبري جمهوري ازبكستان ميدانند كه امارت اسلامي افغانستان و جمهوري ازبكستان علائق تاريخي و فرهنگي بسيار طولاني دارند كه دو ملت را كه روزگاري يكي بودند، با هم در جهان معاصر نزديك سازد و به عنوان دو ملت متمدن و با فرهنگ كه اسلام عقيده مشترك شان است در راه اعتلاي همديگر بكوشند. زيرا دوستان دانا ميدانند كه يك همسايه آرام ، قوي بهتر است از يك همسايه نا آرام و ضعيف. به همين جهت امارت اسلامي افغانستان و جمهوري ازبكستان ميتوانند با تبادل هيأتها ، بيشتر با هم نزديك شوند و همديگر را درك كند و به عنوان همسايه هاي نيك از ترقي و يا پيشرفت همديگر خوش شوند و هر زمينه يي كه براي انكشاف همديگر ضروري بود ، با خوشروئي در اختيار همديگر بگذارند.

اميدواريم نتيجه ملاقات هيأت امارت اسلامي افغانستان با آقاي كريموف رئيس جمهوري ازبكستان هرچه زود تر در [illegible]

ادامه دارد

## د وزیر اکبر خان روغتون مرستیال محترم ...

مرستـه ودان شـوی چی د ودانولو په چارو کی بی د هوخیست کمپنی د بریښنا سیستم بی د زمینس کمپنی د اوبو رسولو او کانالیزاسیون او مرکز گرمی سیستم بی د هایمن کمپنی له خوا سرته رسیدلی او د عامی روغتیا وزارت په چوکاټ کی بو ۳۵۰ بستریز روغتون دی چی همدا اوس د بو لړ ستونزو او مشکلاتو په وجه بوازی ۲٦۷ بستره فعال او موجود دی.

ددغه روغتون محترم معاون صاحب زیاتوی: د وزیر محمد اکبر خان روغتون د افغانستان د اورتوپیدی او تروماتولوژی لوی څیرنیز مرکز دی او همدا اوس د اورتوپیدی او تروماتولوژی، جراحی او داخلی ښځینه او نارینه ستاف په کی شپه او ورځ د گرانو هیوادوالو خدمت ته اماده دی. په ښځینه برخه کی د اورتوپیدی، جراحی او داخلی ۷۵ بستره او په نارینه برخه کی ۱۹۲ بستره لری د لابراتواری چارو او اکسریز برخی هم فعالی دی، دی روغتون ته هغه شیمر ناروغان او تپیان چی د ماینونو د چاودنو، توغندیو لگیدنی، ترافیکی او جنایی پیښو او د عمومی جراحی د پیښو او هغه ناروغان او تپیان چی جدی مراقبت او درملنی ته اړتیا لری مراجعه کوی او په داخله برخه کی د ښیړنی مرستی او درملنی په خاطر بستر او تداوی کیږی البته دا باید څرگنده کړم چی موږ په ښځینه او نارینه برخو کی له ۱۲ کلن عمر نه پرته ناروغان منو او د دوی د معالجی او دارو درملو ټول لگښتونه چی په دی روغتون کی د نړیوال سره صلیب او عامی روغتیا وزارت له خوا اکمال کیږی په مجانی دول تر سره کیږی.

ده زیاته کړه: د وزیر محمد اکبر خان روغتون په روان ۱٤۲۰ هـ ق کال کی ۳۹۱ تنه تشکیل لری چی فعلاً په داخله برخه کی ۱۵ تنه په روغتیایی چارو بوخت دی چی څلور تنه یی متخصصین او نور یی د لومړی دوهم دریم او څلورم کال د ترینتگ په پروگرام کی شامل داکتران دی. همدارنگه د جراحی په برخه کی هم ۱۵ تنه ډاکتران کار کوی چی ۵ تنه یی متخصصین او پاتی ۱۰ تنه نور یی د لومړی دوهم، دریم او څلورم کال د ترینتگ په پروگرام کی شامل دی.

دغه راز د اورتوپیدی په برخه کی ۲۰ تنه له دی ډلی نه ٤ تنه متخصصین او نور یی د ترینتگ د پروگرام شاملین دی باید څرگنده کړم چی د طب د موسسی ۱٤ تنه تکړه ډاکتران او استادان د پوهندوی له رتبی نه د پوهنمل تر علمی رتبی پوری د عمومی جراحی اورتوپیدی او داخلی په څانگو کی له موږ سره په روغتیایی چارو کی مرسته او همکاری لری او عملاً په کار بوخت دی. همدارنگه د انستیزی په برخه کی یو تن ډاکتر، د اکسریز ۹ تنه فنی پرسونل، د لابراتوار ۱۰ تنه فنی پرسونل د درمل جوړونی ۸ تنه فارمستان، ۷۵ تنه نرسان او فلشران، ۸ تنه فزیوتراپستان، ۱۰۸ تنه **خدماتی پرسونل، ۱۱ تنه اجیر نرسان او ۳۰ تنه اداری پرسونل په دی روغتون کی په ورځنیو چارو بوخت دی.**

## کار احیا مجدد تأسیسات پوهنتون کابل به ...

اقتصاد، ادبیات، انجنیري، کتابخانه، لیلیه، ریاست نشرات و سایر بخش هاي مختلف پوهنتون کابل بخاطر پیشبرد هر چه بهتر و تسریع امور ساختماني با هم بحث و تبادل نظر نموده و از جریان کار ساختماني و ترمیماتي پوهنتون کابل کنترول به عمل آوردند.

همچنان کار اعمار یك محراب مسجد شریف در صحن پوهنتون کابل بطور پخته و اساسي که قبلاً در نظر گرفته شده بود همین اکنون بشدت جریان داشته و با تکمیل کارآن زمینه اداي نماز براي بیش از دو هزار و پنجصد تن نمازگزار در یك وقت فراهم میگردد.

قابل تذکر است که بعد از استقرار امارت اسلامي و اعاده مجدد نظم و امنیت در شهر کابل و با وجود عدم دسترسي به امکانات مالي و تخنیکي امارت اسلامي افغانستان توانسته است با امکانات دست داشته خویش اکثر تاسیسات عام المنفعه و موسسات تعلیمي و تحصیلي کشور را که در اثر کودتاي کمونستي و تجاوز روسها و جنگهاي بي مفهوم رژیم قبلي تخریب و یا خساره مند گردیده بودند مجدداً احیاء و باز سازي نماید که قرار داد ترمیم و باز سازي پوهنتون کابل طي سال روان با شش شرکت ساختماني داخلي یکي از نمونه هاي بارز مشي عمراني امارت اسلامي در امر احیاء و فعال شدن تاسیسات تحصیلي و تعلیمي کشور میباشد.

چنانچه طي چند روز گذشته به اثر توجه هیئت رهبري پوهنتون و تلاش خستگي ناپذیر انجنیران وزارت آب و برق جریان برق مجدداً در لیلیه پوهنتون کابل بعد از گذشت چندین سال تامین و محصلان از نور برق مستفید گردیدند.

## خدمات لابراتواري از طریق لابراتوار ...

امارت اسلامي و تأمین صلح و امنیت در کشور تعمیر لابراتوار هاي مرکزي دو باره احیا و یك تعداد سامان آلات نیز تهیه گردید که فعلاً ما در بخش هاي باکتریالوژي، کیمیاي حیاتي، هماتولوژي و پرازیتولوژي در خدمت هموطنان قرار داریم که فعلاً سازمان صحي جهان با ما کمك نمي کند در بخش معاینات پیشرفته دچار میگردیم امید است که سازمان صحي جهان حسب توافق قبلي با ما همکاري نماید.

محترم شریفي علاوه نمودند در موسسه ملي لابراتوار هاي طبي بر علاوه هشت تن کارمند اداري و تعداد ۳۵ تن تکنالوجیست که چهار تن آن از طبقه اناث مي باشد مصروف خدمت اند باید گفت که در لابراتوار هاي مرکزي معاینات مریضان اناثیه در شرایط کاملاً اسلامي به وسیله کارمندان اناثیه اجرا مي شود چون خدمات لابراتواري با انواع مکروب هاي مضر و خطرناك همراه باشد از مقامات محترم امارت اسلامي افغانستان متمني هستیم تا مطابق به قانون کار مضر صحت با آنها **حق الخطر پرداخته شود خدمات لابراتواري از طریق لابراتوار مرکزي و سایر لابراتوار هاي ما طور مجاني انجام مي یابد.**

## د خوست ولایت د ...

جوونی او روزنی رئیس محترم مولوی سلطان محمود مجروحی محترم مفتی حبیب الرحمن خوستی، او څو تنو نورو چارواکو او درنو عالمانو د بگړی د فضیلت او د طالب العلمانو د فراغت د ارزښت په باره کی خبری وکړی او د هغوی فراغت یی د هیواد د بچیانو د ذهنونو د روښانه کولو په لاره کی یو مثبت گام وباله. دغه راز ویناوالو د علم او پوهی د فضیلت د اسلامی امارت د پالیسی د مخالفینو د بی ځایه او بی مفهومه تحرکاتو او د ژوری د جهادی مرکز د تاریخی اهمیت او سوابقو په باره کی اوږدی خبری وکړی او د سلمان فارسی «رض» د مدرسی په اوو تنو طالب العلمانو باندی یی د فضیلت بگړی وتړلی.

## د بلخ ولایت د ...

غړو لخوا په خاصو مهارتونو سره پرون **مازدیگر د کابل په ورزشی لوبغالی کی وشوه په زړگونو تنو کابل ښاریانو او یو شمیر امارتی چارواکو** وکوت او لوبه دیوه په مقابل کی په یوه سره برابره پایته ورسیده.

**د بلخ ولایت د فتبال د ټیمونو او د کابل د فتبال د ټیمونو تر منځ د لوبو لړی روانه ده.**

## در ۲۸۳٦ باب مدرسه ...

«راشدي» رئیس پلان و روابط بین المللي وزارت معارف گفت: بخاطر اعمار مدارس تخریب شده در قلمرو امارت اسلامي و ایجاد مدارس جدید وزارت معارف در سال جاري هجري قمري به تعداد یکصدو سي و سه پروژه خدماتي را به مصرف چار ملیارد و سه صد ملیون افغاني منظور نموده است که خوشبختانه با وجود تبلیغات دروغین بعضي از حلقات خارجي که گویا در امارت اسلامي توجه به معارف و تعلیم و تربیه صورت نمیگیرد در تعداد طالب العلمان جدید الشمول در مدارس نه فیصد افزایش به عمل آمده است و امید است در آینده با تکمیل کار پروژه و توجه بیشتر مسؤولین معارف تعداد بیشتري از مدارس مجدداً ترمیم و زمینه جذب طلاب بیشتر فراهم گردد.

موصوف یاد آور شد تعداد طالب العلمان مدارس دیني و عصري در حاکمیت امارت اسلامي افغانستان با وجود تخریب و خساره مند گردیدن مدارس کشور به اثر حوادث ناگوار سالهاي گذشته که خسارات وارده به مدارس کشور به ملیارد ها افغاني بالغ میگردد خیلي چشمگیر بوده و امارت اسلامي افغانستان به ادامه سیاستهاي صلحجویانه و عام المنفعه خویش طي سال گذشته به تعداد یکصدو پنجاه باب مدرسه ابتدایي را به متوسطه و پنجاه باب متوسطه را به مدرسه عمومي ارتقاء و پنجاه و چهار باب ابتدایي و به تعداد یکصدو پنجاه و سه باب مدرسه دیني و هفت باب، دارالحفاظ را جدیداً از بودجه انکشافي ایجاد و اعمار نموده است.

## اهالي، موسفیدان و ...

و صد ها تن از مردم جوزجان تدویر یافته بود، محترم والي ولایت جوزجان طي سخناني گفت: امارت اسلامي بمثابه مدافع راستین ملت مجاهد و مسلمان افغانستان تطبیق احکام شرعي و خدمت به مردم را در صدر کلیه وظایف خویش قرار داده و آن را گام به گام عملي مینماید و بخاطر عملي شدن آن حاضر به هرگونه ایثار و قرباني میباشند.

بعداً تعدادي از بزرگان و مسؤولین حاضر در اجتماع بالنوبه در رابطه به موضعگیري صلحجویانه امارت اسلامي صحبت نموده اطمینان دادند که با تمام امکانات هر آن از ارزشهاي نظام اسلامي در کشور دفاع نموده و بار دیگر بر حمایت شان مبني بر دفاع از حاکمیت اسلامي در کشور تاکید به عمل آورده و اعمال جنایت بار مخالفین امارت اسلامي را نکوهش و تقبیح نمودند.

## د پکتیکا ولایت د ...

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د خیر کوټ ولسوالي د دیرش بستریز روغتون د جوړولو کار چي د افغانستان د اسلامي امارت له بودجي نه د، پکتیکا ولایت د عامي روغتیا ریاست لخوا او د خیر کوټ ولسوالي د دیندارو خلکو په همکاري پیل شویدي. د جراحي داخله لابراتوار او د نسایي او ولادي سرویسونه لري چي په راتلونکو دوو میاشتي کي به بشپړ او د گټي اخیستني وړ وگرځي.

ددغه روغتون د کار د پیل په مراسمو کي د خیرکوټ ولسوال محترم اسد الله او ددغي ولسوالي یو شمیر امارتي چارواکو گډون کړي و.

## د کنړ ولایت د ...

د ویناوو په کولو سره د مخالفینو انسانی ضد او اسلامی ضد عملونه وغندل او له اسلامی امارت سره یی د وټه پوری ولسوالی د خلکو **په هر اړخیزی همکاری او ملاتړ باندی ټینگار وکړ.**

دغه راز ویناوالو د وټه پوری ولسوالی د تیوتنی په باب د مخالفینو دروغجن او دښمنانه تبلیغات له حقیقت نه لری وبلل او ژمنه یی وکړه چی د اسلامی امارت په مشری هره گړی د خپلو سیمو دفاع ته چمتو دی او هیڅ مفسد او اسلام دښمن عنصر ته اجازه نه **ورکوی چی د دوی د سیمو امنیت گډوډ کړی او خپل پخوانی جنایتونه تکرار کړی.**

## مسعود فامیل هاي ...

جا هاي دیگر نقل مکان نمایند وضعیت کنوني اهالي شمال در پنجشیر خیلي رقت بار بوده و از ایشان به حیث سپر نظامي و وسیله کمکهاي اقتصادي استفاده نا جایز نموده و حیات هزاران تن از مردم غیر نظامي را به مخاطره مي اندازد لازم است تا سازمان ملل متحد و غیره مجامع بین المللي مظالم مسعود را بالاي مردم مذکور نا دیده نه گرفته و به خاطر نجات اهالي گروگان شده در پنجشیر تلاش به خرج دهند.

## طي پنج ماه اول سال ...

داده ایم که خدمت تان تقدیم میگردد، محترم مولوي صاحب در رابطه به فعالیت هاي آن ریاست چنین گفتند: ریاست قوانین صحي و بررسي با داشتن سه مدیریت عمومي و یك مدیریت اداري در عرصه خدمات صحي به همشهریان محترم وظایف ذیل را انجام میدهند:

۱- کنترول و بررسي از تمام درملتونها کلنیك هاي تشخیصیه شخصي، معاینه خانه ها و لابراتوار ها در مرکز و ولایات کشور.

۲- افتتاح و ایجاد درملتونها، کلینیك هاي تشخیصیه شخصي، لابراتوار ها و معاینه خانه هاي شخصي جزء وظایف این ریاست مي باشد.

۳- مریضانیکه تداوي شان بداخل کشور امکان پذیر نمي باشد بعد از فیصله کمیسیون این ریاست به مرجع مربوطه جهت اخذ پاسپورت معرفي میگردد.

٤- تصادیق مریضانیکه ایام غیابت آنها اضافه تر از چار ماه مي باشد بعد از فیصله کمیسیون به مرجع آنها رسماً ارسال میگردد.

۵- انتقال ادویه جات مجاز از مرکز به ولایات کشور بعد از تشریح و نشاني شد بل هاي آنها جزء وظایف این ریاست میباشد.

فورمه هاي صحي کارمندان جدید التقرر که از طریق تمام وزارت خانه ها جهت تصدیق وضع صحي شان به این ریاست معرفي میگردند از صحت و عدم صحت آنها تصدیق نموده و دو باره به ادارات مربوطه شان اعزام میگردند.

همچنان باید متذکر شد که کنترول و بررسي دواخانه ها و معاینه خانه هاي دوکتوران و کلنیك هاي شخصي و لابراتوار ها که در طول ۵ ماه اول سال جاري از طریق اینریاست صورت گرفته به تعداد ۳۰۰ دواخانه، ۱۰۰ معاینه خانه دوکتوران ۵۰ لابراتوار و ۱۰ کلینیك تشخیصیه براي مدت چند یوم مسدود گردیده اند که بعد از سپري **نمودن ایام و استحضاري دو باره باز گردیده اند.**

محترم مولوي صاحب در اخیر علاوه نمودند: نا گفته نباید گذاشت که در طول ۵ ماه اول سال جاري از درك افتتاح درملتونها، لابراتوار ها و معاینه خانه هاي شخصي مبلغ سه صدو پنجاه ملیون افغاني بحساب واردات امارت اسلامي افغانستان تحویل بانك گردیده است.

## یك تعداد ماشین آلات ...

ریاست چهارم استخبارات از مربوطات ولایت ننگرهار کشف و غرض نصب و بهره برداري مجدد به آن تصدي سپرده شد.

قابل یاد آوري است که مسؤولین امارت- اسلامي به ادامه تلاش هاي پیگیر و بي شائبه شان در عرصه احیاء و ترمیم مجدد تاسیسات عام المنفعه کشور طي دو سال گذشته علاوه از ترمیم و تجهیز مجدد تصدي کار خانجات جنگلك ده ها پایه ماشین آلات آنرا که قبلاً در زمان جنگ هاي بي مفهوم رژیم گذشته توسط ملیشه هاي مسلح به غارت برده شده بود از گوشه و کنار کشور دستیابي و مجدداً غرض بهره برداري در آن تصدي نصب و فعال نمودند و یکي از بزرگترین موسسات تولیدي کشور بحساب مي آید متأسفانه در اثر جنگ هاي ذات- البیني گروه هاي متخاصم در زمان رژیم ائتلافي رباني هفتاد فیصد تاسیسات آن تخریب و اکثر ماشین آلات آن به سرقت برده شد که خسارات وارده به این مرکز تولیدي به شصت ملیارد افغاني بالغ میگردد.


| د گڼون بیه له هیواد نه بهر | | |
|---|---|---|
| ملك | شپږ میاشتنی | کلني |
| پاکستان | RS200 | RS400 |
| دخلیج هیوادونه | SR.150 | SR.300 |
| اروپا او امریکا | US$75 | US$150 |


## تبصره

# هیواد د علمی بیا رغاونی په لور

د افغانستان د اسلامی امارت د پوهنی وزارت دیوی احصائیی له مخی په تیرنی کال کی د هیواد په مرکز او ولایاتو کی نژدی یو ملیون او پنځه سوه شپږ اتیا زره زده کونکی په دری زره اته سوه شپږ بابه مدرسو کی په زده کړه بوخت دی او د هغه تر څنگ د هیواد د علمی مرکزونو مدرسو او ښوونځیو د احیاء او اعمار کار هم په چټکی سره روان دی.

د اسلامی امارت د پوهنی د وزارت دغه هلی ځلی پداسی حال کی تر سره کیږی چی په هیواد کی شل کلنی جگړی د همدی وزارت د کار او فعالیت ساحه او وسایل په هغه اندازه له منځه وړی چی په اوسنیو شرایطو کی د هغوی بیا احیا او رغول نژدی له امکانه لیری ښکاری.

ربښتیا هم له جنگ، جگړی وروسته د هیواد د هری څانگی بیا رغونه که هغه اقتصادی وی که عمرانی که صنعتی وی که علمی چی د معاشری سوکالی او رفاهیت پوری مربوط وی یو حتمی او ضروری امر دی خو تعلیمی او تحصیلی بیا رغونه یوه له هغو بنسټیزو اهمیاتو څخه ده چی باید د ړومبی توب حق ورکړی شی.

د هیواد علمی بیا رغونه زموږ د ځوان او راتلونکی نسل لپاره د یوی سراسری نیکمرغی او سوکالی په معنا دی. د هیواد د ځوان نسل لپاره تعلیمی مراکزو احیاء او رغونه او په هغوی کی په اسلامی او افغانی معیارونو برابره سالمه روزنه هغه څه دی چی زمونږ د جگړی ځپلی وطن هر ځوان ورته اشد ضرورت لری.

دی ټکی ته په توجه سره د افغانستان اسلامی امارت سره له دی چی له زیاتو مالی او اقتصادی ستونزو سره لاس او گریوان دی بیا هم کوشش کړی چی د وطن د بچیانو لپاره په هره گوښه کی د زده کړی او تحصیل زمینه برابره او د امکان تر حده د هغوی له مخی په تعلیمی او تحصیلی برخه کی ستونزی له منځه یوسی چی د هیواد په مرکز او ولایاتو کی د تعلیمی او تحصیلی مرکزونو بیا رغونه او گړندي فعالیت زمونږ د همدی خبری ښه دلیل دی.

نن په هیواد کی د دری زره اته سوه شپږ بابه مدرسو او ښوونځیو په موجودیت برعلاوه په کابل ننگرهار، قندهار، مزار شریف او هرات کی د لوړو زدکړو د تر لاسه کولو لپاره پوهنتونونه هم په اساسی توگه فعال دی چی په شرعی زده کړو برسیره په طبی، انجنیری، زراعتی اقتصادی، ... برخه کی مسلمان کدرونه افغانی ټولنی ته تقدیموی. او نه یواځی دا چی د هغوی د تخنیکی او فزیکی برخی په بیا رغونه کی توجه شوی بلکی د هغوی په اکادیمیک او علمی احیاء کی هم پوره توجه تر سره شوی د هغوی لپاره د هیواد مجربو استادانو لخوا د نوی کریکولم او نصاب بندو بست شوی او په فعلی حالت کی د ښو مجربو استادانو لخوا د لوړو زدکړو محصلینو ته د عالی تحصیل زمینه برابره ده. چی که د لوی خدای خوښه وه زمونږ د ټولنی د ژوند د هری برخی ستونزی به د همدغو ځوانانو او مسلمانو کدرونو په هلو ځلو سره له منځه ځی او مونږ به د ترقی، رفاه او سوکالی په لور گام اخلو. ان شاء الله

و ما ذالک علی الله بعزیز

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press